نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۳/۰۵/۲۰

# د اسامه بن لادن ړنګ کور د خالص فاميلی

اسامه بن لادن چې په ننګرهار کې هستوګن وو، او د طالبانو تر ورستي وخت پورې همدلته پاتې شو، هغه د مولوي خالص د فاميليو په سيمه کې په هغه ختينه کلا کې اوسيده، کوم چې د مرحوم مولوي خالص له خوا يې څمکه ورته ورکول شوې وه.
د اسامه بن لادن د ختو او خامو خښتو ښخه جوړ کور عادي کور نه وو، هغه د تاريخ يوه برخه وه، او برخه به يې وي.
د اسامه د ختو کور يوه لويه کلا وه، چې په څو جريبه ځمکه کې ودانه وه، څلورو لورو ته يې جګ جګ د ختو



بن لادن ته منسوب کور

ديوالونه راتاو شوي وو، دغې لويې کلا ته د ننوتلو يوه لويه دروازه وه، ولي کيداى شي چې ځيني فرعي لارې به يې هم درلودلې.
دکلا عمومي دروازه شمال لورته وه، او د عمومي دروازې له ننوتلو سره سم يې شمال لويديځ لورته کوچنى د ختو ښخه جوړ مسجد وو، چې خپله اسامه بن لادن او د ده سره عرب مجاهدينو به پکې لمونځ کاوو، د عمومي دروازې ختيځ لور ته دوه د ختو کوټې وې چې د اسامه بن لادن سره د ميلمنو د کتلو له پاره د ناستې او مجلس ځاى وو.
دلته يوه وړوکې حويلې ته ورته ساحه وه، او له دې وروسته بيا د اسامه کورته يو کوچنې دروازه چې د ميلمنو له ځاى ښخه ختيځ لورته وه خلاصه شوې وه.
په کلا کې دننه  يواځې د اسامه بن لادن کورنى نه وه، هلته دغه د خامو خښتو او ختو کورونه چې سر يې د پاکستاني کاډرو پوسيله پوښل شوى وو، بنه ډير ليدل کيدل، د بلاکونو په ډول جوړ شوي وو، او هر کور دوه د خوب کوټې، يو وړوکې دهليز، اشپز خانه او تشناب درلود، د غه د کوچنيو اپارتمانو بلاک چې کورونه پکې شا په شا جوړ شوي وو، د ځينو کورونو مخ يې ختيځ او د ځينو يې لويديځ ته وو، د هرو دوو بلاکونو په منځ کې  نږدې دوه  متره  سړک چې شمال او جنوب ته وو، پرانستي پاتې  وه، او نږدې اوه  يا پنځه بلاکونه دغه ډول جوړ شوي وو، ماته د کورونو شمير دقيق معلوم نه شو، ځکه چې د امنيتي دلايلو له امله مې ونه کړاى شواى چې په دغه وران او ويجاړ کور کې په ارام ډول سره وګرځم.
داسې معلوميدله چې د نظامي اصولو او مقرراتو په نظر کې نيولو سره په دغه لويه جنګې کلا کې کورونه ډيزاين شوي وو، او په اضطراري حالاتو کې د مقابلې او جنګ ټول اړخونه په نظر کې نيول شوي وو.
داسامه بن لادن دغه کور تر هغه مهاله جوړ وو، ترڅو چې ننګرهار ته د امريکايانو تر بيرغ لاندې د حاجي عبدالقدير او حضرت علي قوتونه ننوتل.
کله چې د حضرت علي  (دهغه وخت د امنيي قومندان) ځواکونه خبر شول چې په دبنت کې د اسامه بن لادن کلا ولاړه ده، په بامونو کې يې اوسپنيز  ګاډر او چيتې استعمال شوي دي، او دا رنګه د لرګي کړکۍ او دروازې پکې پريمانه  شتون لري، تر هغه وو چې تر نورو توپکمارو ډير ګاډر، کړکۍ او دروازې وباسي او خپلو کورونو او يا يې بازار ته د خرڅلاو له پاره يوسي.
دوخت والي، د فرقې قومندان او نورو مسؤلو کسانو هم د حضرت علي د توپکمارو د دغه کار مخنيوى ونه کړ، او ځينو نورو قومندانانو هم ورته عمل وکړ، د اسامه د کور سامانونه يې غلا کړل، او ويل يې چې هسې هم نوم د حضرت علي بد دى.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

د اسامه د کور ټول هغه توکي چې د استعمال او خرڅلا وړ وو، ډیر ژر ژر د ننګرهار د غلو او داړه مارو قومندانانو کسانو تر کورونو او بازار ورسول.
اوسمهال د اسامه هغه کور چې ډیر مهال له خپلي کورنۍ او خپلو عربو مجاهدینو سره پکې اوسیدلی وو، کنډواله او په یو بشپړ خراب حالت کې قرار لري.
داچي تراوسه زوروواکو او چارواکو دغه کلا او سیمه قبضه کړي نه ده، یو لامل دادی چې هغه سیمه د مولوي خالص فامیلی دی، او ټولو ته جریان معلوم دی چې دغه ټوټه ځمکه مرحوم خالص اسامه بن لادن ته ورکړي وه، بل داچي هلته ډیر خلک د خالص د ګوند اوسیږي، چي هغوی ټول په یو نه یو ډول د انوارالحق مجاهد او طالبانو سره په اړیکو متهم دي، او دا ډول د خالص د فامیلیو سیمه د چاروواکو له پاره د امن ساحه هم نه ده.
داچي اسامه بن لادن په نړیواله کچه یو پیژندل شوی څیره وه، او دهغه په اړه به د هغه له وژلکیدو څخه وروسته هم ډیري څیړني وشي، دهغه د ژوند په اړه، د هغه د اوسیدو او د اوسیدو د ځای په اړه او داسي نور...
زموږ هیواد کې هسي هم تاریخي اثار ارزښت نه لري او نه هم د تاریخي اثارو په ارزښت د ټولني عام وګړي پوهاوی لري، بدبختانه چي زموږ د ټولني هغه کسان چي ځان ته پوه او زده کړي وایي هم د تاریخي اثارو د ارزښت په پرتله د دغو اثارو له لاري مادي ګټو ته زیاته ترجیح ورکوي.
په تیرو دریو لسیزو کي چي موږ یې د ډیرو ناوړو پیښو شاهدان یو، زموږ د هیواد تاریخي اثار په پراخه پیمانه له هیواد څخه ووتل او د نړۍ ګوټ ګوټ ته د قاچاق له لاري ورسیدل، د نړۍ په سترو موزیمونو کي د افغانستان غلاشوي تاریخي اثار وجود لري.
د وزیر اکبرخان تومانچه هم موږ ونه ساتلای شوه، د غازي امان الله خان توپک او دا ډول په کابل کي دارالامان، په کندهار کي زوړ ښار، په هلمند کي قلعه بست، په هرات کي منارونه او نور ډیر مهم اثار، په نږدې ټولو ولایتونو کي مو خپل تاریخي اثار په ډیر لږ قیمت پردو ته په لاس ورکړل.
زموږ موزیم دومره زیانمن شو، چي په اوسني معاصر تاریخ کي به یې ساری کم لیدل کیږي.
د انګریزانو سره د افغانانو د جګړي هیڅ تاریخي اثر چي موږ پري ویاړ وکړو، نه لرو، د امیرعبدالرحمن خان په وخت کي په کابل کي د شاه دوشمشیره(ع) سره نږدې موږ د توپ جوړولو فابریکه درلودله، خو نن چي دنیا اسمان ته ختلي موږ د توپ جوړولو پرځای حتی مرمی هم نه شو جوړولای.
د روسانو سره د جګړي پرمهال د روسانو ټانکونه، چورلکي او جیټ الوتکي چي د مجاهدینو له خوا څخه ویجاړ شوي وو، د هیواد له پاره یې تاریخي ارزښت درلود، ژوندی تاریخ وو، ممکن یو وخت به داسي راتلی چي د نړۍ سیلانیان به راتلل او د مجاهدینو دغه تاریخ به یې کتی، خو موږ هغه ټول د ډیرو لږو پیسو په مقابل کي د سیمی استخباراتي پلان د پلي کیدو له امله وپلورل.
هغه ژوندي روسان چي د جهاد پرمهال ونیول شول، دهغوی پیژندنه راسره نه ده ثبت، هغه روسان چي مجاهدینو د جګړي پرمهال ونیول او یا تسلیم شول، بیا د مجاهدینو په جبهو کي شهیدان شول، دهغوي په اړه معلومات راسره نشته.
کوم ټانک چي د اسلم وطنجار له خوا پرارګ لومړی ډز وکړ، او د داؤد خان جمهوریت یې نسکور کړ، هغه ټانک معلوم نه دی، دا ښیله خبره ده چي اسلم وطنجار او ملګرو خلقیانو یې ښه کار وکړ یا بد؟ ولي هغه ټانک چي تر نن ورځي دهغه د ډز له او د وطنجار د بي باکي او بي عقلي له امله زموږ ولس کړیږي باید چي ساتل شوی وای.
هغه تومانچه چي د یوه محصل له خوا څخه پاچا نادرخان پري وویشتل شو، هغه چیرته ده؟
هغه لومړنی کلاشینکوف چي د روسانو سره د جګړي پرمهال ونیول شو هغه چیرته ده؟ ویل کیږي چي کشمیرخان لومړی سړی وو چي له روسانو یې کلاشینکوف په غنیمت نیولی.
هغه روسي یونیفورم چي لومړی ځل مجاهدینو ته په لاس ورغلی، ولي د تاریخ د یوي برخي په ډول خوندي ونه ساتلی شو.
ویل کیږي چي د روسانو سره د افغان جهاد پرمهال روسانو افغانستان ته دوه داسي ټانکونه هم راوستلي وو چي د دوهمی نړیوالي جګړي پرمهال یې له د هټلر له پلوي قواوو څخه نیولي وو، دغه دواړه ټانکونه تر اوسني وخت پوري روغ او جوړ ساتل شوي وو، خو د اوسني حکومت په فساد او اختلاس کي ککړو چاروکو د مادیاتو او امتیازاتو په بدل کي هغه ټانکونه بیرته هغو هیوادونو ته وسپارل چي د دویمي نړیوالي جګړي پرمهال روسانو ورڅخه غنیمت نیولي وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

او بالاخره د امریکایانو سره د جګړي پرمهال زما د معلوماتو له مخي هغه لومړنی وسله چي طالبانو نیولي هغه یي هم دلاسه د سیاسي او نظامي چارو له امله له لاسه وتلي ده.
امریکایان هوښیار دی، هغه پوهیږي که د دوی ویجاړي شوي شوبلي، چورلکي او الوتکي په افغانستان کي پاتي شي دا به د تاریخ یوه برخه وي، نو له همدي امله ده چي خپل ویجاړ شوي ټانکونه، چورلکي او الوتکي په خپله بمبارد کوي او له منځه یي وړي. ترڅو د دوی د جنګ او ماتي اثار په افغانستان کي پاتي نه شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ